## د بلخ پوهنتون په علمي –څېړنيزو نړيوالو ژورنالونو کې د مقالې ليکنې لارښود

دا لارښود د بلخ پوهنتون په نړيوالو ژورنالونو کې په ټولنيزو او طبيعي علومو برخه کې د علمي – څېړنيزو مقالو منلو لپاره تنظيم شوی ترڅو يې پر مرسته د جوړښت او منځپانګې له اړخه معياري مقالې ترتيب شي.

**د يوې علمي مقالې برخې:** عنوان، ليکوال/ ليکوالان. اړونده اداره، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، کړنلاره او مواد، موندنې، مناقشه/ بحث، پايله او ماخذونه.

۱- **عنوان (Title):** د لېږل شوې مقالې عنوان بايد لاندې ځانګړنې ولري:

۱. نوی او بکر، عملي او د څېړنې وړ وي.

۲. جامع او د څېړنې منځپانګې وړاندې کوونکی وي.

۳. لنډ( له ۲۰ کلمو کم وي)، جزئي، جذاب، له مخففاتو، سوداګريزو نومونو او اضافی کلمو څخه  لرې وي.

۴. د پوښتنې په ډول نه وي.

**۲- ليکوال/ ليکوالان (Author / Authors):** د ليکوال ځانګړنې له عنوان وروسته بله کرښه کې په ښي خوا کې د ډيپارتمنټ، پوهنځي، مؤسسې، ايميل ادرس او د څېړونکي د پيژندنې شمېره (ORCID) ذکر کولو سره راوړل شي.

(۱) تبصره: که مقاله د څو ليکوالانو لخوا ليکل شوي وي، مسؤل ليکوال بايد ذکر شي.

(۲) تبصره: له افتخاري او تشريقاتي القابو څخه چې علمي بڼه نه لري، ډډه وشي.

**۳- لنډيز (Abstract):** د بلخ پوهنتون په علمي – څېړنيزو نړيوالو ژورنالونو کې د مقالې لنډيز بايد لاندې برخې ولري:

۱. په يو پارګراف کې حد اکثر ۲۵۰ کلمې وي.

۲. له متنه مستقل، لنډ، غير پرېکړه ييز او منسجم لنډيز ترتيب شي.

۳. د مقالې لنډيز د مقالې په اصلي ژبه وليکل شي او انګليسي او عربي ته وژباړل شي.

۴. د مقالې لنډيز جوړښت کې لاندې عناصر شامل دي:

- د څېړنې مسأله د پايلو په استناد په يوه جمله کې وليکل شي.
- هدف په يوه جمله کې او د څېړنې د پای په موخه وټاکل شي.
- ميتود په دوه جملو کې، چې په هغه کې د معلوماتو راټولولو، شمېر ټولنه او نمونې اخيستلو اړوند مطالب وړاندې شي.
- د څېړنې اصلې او مهمې موندنې په يوه يا دوه جملو کې بيان شي.

تبصره: په لنډيز کې له جدا عنوانونو لکه سريزه، موخې، ميتود، موندنې او پايلې ليکلو څخه ډډه کول پکار دي.

**٤- کليدي کلمې (Key words):** کليدي کلمې د مقالې موضوع بيانوي چې علمي ټولنه کې د مقالې معرفي او ښودلو کې کارول کېږي او لاندې برخې لري:

۱. کليدي کلمې معمولا په مقاله کې ډېرې کارول کېږي.

۲. کليدي کلمې د مقالې محتوا ښکارندويي کوي او د مقالې اصلي عنوان څخه بايد نه وي اخيستل شوې.

۳. له ۳ تر ٦ کلمو پورې وي.
۴. کلیدي کلمې د الفبا تورو پر اساس ترتیب شي.

**۵- سریزه(Introduction):** د مقالې سریزه کې لاندې موضوعات شامل دي:

۱. د هغې مسألې بیانول چې څېړنه پرې ترسره شوې ده.
۲. د مطالعې لاندې مسأله د ترسره شویو مطالعاتو مطابق د علمي شواهدو په وړاندې کولو سره واضح شي.
۳. د موضوع پیژندنه باید د شته اخري شواهدو او ارقامو سره ذکر شي.
۴. په سریزه کې د موخې او اړتیا تر څنګ دا مشخص شي، چې لیکوال د کومو پایلو په لټه کې دی.
۵. د پوښتنو/ فرضیو. څېړنې میتود او د موضوع شالید پکې وړاندې شي.

تبصره: په سریزه کې د جدا عنوانونو لکه موخې، پوښتنې، د څېړنې اړتیا، د موضوع شالید، میتود، موندنې او پایلې ذکر کولو څخه ډډه وشي.

**٦- مواد او د څېړنې اصلي متن (Materials):** اصلي برخه د څېړنه اصلي بدنه یا متن دی چې پکې شواهد، ډیټا او تحلیل پکې وي، باید مستدل، دقیق او په منطقي تسلسل سره وړاندې شي.

**۷- موندنې/ پایلې (Results):** موندنو کې توصیفي معلومات چې په تشریحي ډول او شمېر علایمو لکه عد، رقم او ... سره توضیح کېږي، د لزوم دید په اساس پکې د موضوع اړوند د متغیر په پام کې نیولو سره له ګرافونو، چارتونو څخه ګټه اخیستل کېږي.

تبصره: د جدول توضیحات د جدول پورته او د شکل توضیحات د شکل لاندې ولیکل شي.

**۸- مناقشه (Discussion):** دا برخه د څېړنې موخې او اصلي پایلو په نظر کې نیولو سره په لنډ ډول تشریح او بحث کېږي او پکې لاندې ټکي وي.

۱. د بحث په پیل کې د مهمو موندنو لنډیز په یو پاراګراف کې راوړل کېږي.
۲. له مخکنیو څېړنو سره د پایلو پرتلنه او توپیرونه او مشابهتونه واضیح کېږي.
۳. د ضعف او قوت ټکي یادول او د اړتیا په صورت کې د راتلونکو څېړنو لپاره وړانیزونه وشي.

تبصره: په ساحوي څېړنه کې پایلې او موندنې په نظر کې نیول کېږي.

**۹- پایله (Conclusion):** پایله د څېړنې موندنې او لاسته روانړنې وړاندې کوي، چې د څېړنې د مطالبو له منځپانګې باید د باندې نه وي او په لیکلو کې یې له اوږدو جملو، د متن اطلاعات، انځورونو او جدلونو څخه ډډه وشي او د اړتیا په صورت کې د څېړنې وړاندیزونه د پایلې اخر کې له جدا عنوانه پرته راوړل شي.

**۱۰- مأخذونه (References):** د بلخ پوهنتون علمي څېړنیز نړیوال ژورنال کې د متن منځ او د مقالې پای کې د منابعو لیکل باید د ( APA) سیستم پر اساس تنظیم شي.